بسم الله الرحمن الرحیم

**روسیه په لیبیا کې د اوربند لپاره د امریکا د لاسووهنې غوښتنه کوي.**

ژباړه:

د روسیې اطلاعاتي خبري اژانس د ۲۰۲۰م کال د جون پر ۱۷ مه د روسیې د بهرنیو چارو د وزیر سرگي لاوروف له قوله خبر ورکړی چې مسکو د واشنگټن له کړنو په لیبیا کې د اوربند لپاره هرکلی کوي.

روسیې د لیبیا په مسله کې خپله بې وسي درک کړې ده. په همدې دلیل یې د دغه کړکېچ په حل کې د امریکا ونډه په رسمیت پېژندلې او اغېز یې خورا مهم بللی دی.

امریکا تر اوسه د (الوفاق) له دولت څخه ملاتړ نه دی اعلام کړی او ادعا لري چې جنرال حفتر د سخت دریځو ځواکونو له بریدونو سره مخالف دی؛ خو موندنې ښیې چې د امریکا دولت د جنرال حفتر له ځواکونو سره اړیکه لري او له ترهګرۍ سره د مبارزې په پلمه او د لیبیا د تیلو د لاسته راوړلو په موخه له دغې ډلې ملاتړ کوي.

تېر کال هم د امریکا ولسشمر ډونالډ ټرمپ له جنرال حفتر سره په خبرو کې دغې موضوع ته اشاره کړې وه.

امریکا د مصر، سعودي عربستان او روسیې له لارې په لیبیا کې له اعلان شوي اوربند څخه خپل ملاتړ څرګند کړی دی.

امریکایي چارواکي له حفتر سره د ټلیفوني اړیکې او هغه لیدنه چې له نوموړي سره یې په مسکو کې درلوده، هغه یې له امریکا څخه مرستې غوښتلو ته اړ کړ.

د امریکا او جنرال حفتر د پراخو اړیکو په دلیل؛ روسیه اوس ځان په ګواښ کې ویني او د لیبیا د موضوع په اړه ځان بېوسه ګڼي. په همدغه دلیل روسیه له امریکا غواړي چې په دې مسله کې لاسووهنه وکړي.

دا په دې مانا ده چې روسیه یوازې د لیبیا مسله نه شي حل کولای او فکر کوي چې امریکا یې د حل وړتیا لري.  له شک پرته دا کړنه به د روسیې نفوذ په نړیواله کچه را ټیټ کړي.

**ژباړن: الهام پردېس**